شیر آقا حرکت ٢٠١٠/٢/١٠

# اناالله و انا الیه راجعون

دستر پاچا خان دسولی او عدم تشدد دسیاست دلاری لارویانو !

د لر و بر او په سیمه کی د میشتو پښتنو ،افغاناناو بلوڅو ورونوقومونو !

د ستر انقلابی شاعر ،ادیب ،سیاست پوه« اجمل خټک»د درنی کورنۍ غړو!

دنیشنل عوامی پارټۍ مشرمحترم اسفندیار «ولی »او دمرحوم خټک صاحب دګوندی اوشاعرانه ژوند ملګرو او داجمل صاحب د هر اړخیز انقلابی ،انګار او سری سکروټې داغ سنګر مینه والو په وراندی خپل د خوا خوږی ژور تأثرات او غمشریکی وړاندی کوو . راشۍ په شریکه د دُعاءلاسونه پورته کړو، چی اجمل صاحب دی خدای ابدی غرق رحمت

لری ،درنی کورنۍ ته دی پاک پروردګار اجر عظیم او صبر جمیل نصیب او په راتلونکی کی دی خدای د غم او درد څخه وساتی« امین» اومونږ ټولو ته دی الله ( ج )اتفاق او ددی مقدس اولسی او وطنی ارمان اورسالت درک او همت راکړی چی داجمل صاحب دداغ

سنګر ارزو ګانی یوه یوه پوره،او د ازادۍناوی په خپل کورکړو تر څو په سیالانو کی شمیر او پری نه ږدو چی د« اجمل » هر اړخیز انقلابی داغ ژوند انګار او سکروټې ایری ونیسی!

چی غلیم می ژبه پری کړله اوږده شوه
چی اوږده شوه هومره لا پسی تیره شوه
اوس که نر یي نوغوږونه دی خپل پریکړه
چی زما نغمه سړه نه شوه تووده شوه
« اجمل خټک »

د ډاکتر سید شیر اقا حرکت
او دکورنۍ د لویو وړو له خوا


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.